مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۱۱/۱۰

# مرور لمر



د هغو ونو تر شا

لمر ځان نیام کړ

مخ یې پټ کړ او لاړ

زه پرې پوه نه شوم مرور و که پخلا لاړ رانه

بنایي پخلا تللی وي

یا هم کېدای شي مرور وي رانه

مخ یې تک سور و

را ونه یې کتل

خوله کې یې خندا هم نه وه

بېرته په شا یې هم را و نه کتل

کومه خبره خو ده

زه پرې پوه نه شوم چې زما وه که د ده گناه وه

۲۰۲۰/۰۹/۲۵

هېدرسلیف

ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ